AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالهادي هادي

۲۰۲۴/۰۴/۱۸

# زړه کابل ته:

## خدايه کابل وساتې!

نن مې کابل جانه اندېښنه درته بيا ډيره ده
ناسته دې پر ګل وجود د کومې بلا ويره ده؟
بيا د کوم ابليس د قساوت په اور کې سوځې ته؟
ليکه د سرو وينو او لمبو درنه چاپيره ده
×××
ستا وچې ليمې او روغ وجود زما په ياد نه دی
پاک دې شين آسمان د جنګ له دود زما په ياد نه دی
تا چې د ديوانو له منګولو امن وساتې
داسې يو شهسوار او يو موجود زما په ياد نه دی
×××
وايي چې ښايسته وو ته دا خپله ښکلا اور ګرځي
ځکه درنه تاوې بلاګانې لور په لور ګرځي
ستا بچې راپاڅي چې دا ستا لمنه وژغوري
يو ترابان ووژني خو سل ترابان نور ګرځي
×××
سور لکه د لال په خپلو وينو آباد پاتې يې
ځکه د دنيا د ښامارانو مراد پاتې يې
ښوک دې په دنيا کې د زخمو د ټکور نه شته دي
ښنګه چې فرياد وې لا هغسې فرياد پاتې يې
×××
خدايه د توپکو تورې خولې له زنګه ډکې کړې
دلته سکون راولې آرامې دلته ټکې کړې
نه چې په دې ښار کې بيا ماشوم په خوب کې وډار شي
ورکې له هر کوره د تيارو تورې شيشکې کړې
×××
ښومره بې مانا يمه مانا مې په کابل کې ده
خدايه کابل وساتې چې ساه مې په کابل کې ده
ښنګه په دې شنه وطن کې شنه خوبونه وکړمه؟
مور مې په کابل کې او دنيا مې په کابل کې ده



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ